دښمني څنګه په دوستي بدلیږي؟

لوي خداي (جل جلاله) فرمائي: «نیکي او بدي سره برابرېداي نشي، د بدي ځواب په دي ډول سره ورکړه چي دېر ښه وي. نو ناڅاپه به هغه څوك چي ستا او دهغه ترمینځ دښمني وي دیوه مهربان دوست په شان وګرزي.

ژباړه :(حم السجده - ٣٤)

شريعت

فوق العادة ګڼه — اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحریك نشراتي ارګان

هوښیار څوك او بې همته څوك دی؟

حضرت سداد بن اوس رضي الله عنه وایي: دالله رسول (ص) فرمایلي دي چي: (هوښیار هغه څوك دي چي له ځان سره بې محاسبه وکړه او له مرګ نه وروسته ژوند لپاره یې کار وکړ او عاجز«بې همته» هغه څوك دي چي خپل نفس یې د خواهشاتو تابع کړ، او په الله (ج) پوري یې د«فضل او کرم» امیدونه ونه تړل).

(مشکوة- باب الضیافة)

دوهم کال لومړي ګڼه پرلپسي (٥١) | چهار شنبه د١٣٧٥ هـ ش کال دجدي دمیاشتي (١٢) | د١٩٩٧میلادي کال جنوري (٢) | د١٤١٧هـ ق کال شعبان المعظم (٢٢)

مجلس عالي وزراء دولت اسلامي دایر ګردید

تحت ریاست محترم الحاج مولوي محمد حسن آخند معاون شورای سرپرست دولت اسلامي افغانستان مجلس عالي وزراء در مقر ریاست دولت دایر ګردید.

دفتر مطبوعاتي ریاست دولت اسلامي ګزارش میدهد که در مجلس پیرامون وضع سیاسي، نظامي کشور وپیروزي هائیکه اخیراً در شمال کابل تصیب دولت اسلامي ګردیده است بحث صورت ګرفته در رابطه بتحکیم هرچه بیشتر امنیت سراسري در کشور دفاع از ارمانهاي مقدس تحریك اسلامي طلباي افغانستان انفاذ هر چه بیشتر شریعت غراي محمدي صلی الله علیه وسلم بسط وتحکیم روابط دولت اسلامي افغانستان با جامعه بین المللي تصامیم لازم اتخاذ شد.

همچنان در مجلس عالي وزراء روي فراهم آوردن تسهیلات به مردم افغانستان خاصتاً در عرصه اقتصادي بحث همه جانبه به عمل آمده تجاویز مقتضي اتخاذ وبه مراجع مربوط هدایت لازم صادر ګردید.

دشریعت اوونیزې دلومړي نشراتي کال دپوره کیدو له امله دطالبانو امیر المؤمنین پیغام

دشريعت د جريدي کارکوونکو!

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

تاسو ته ددغه اخبار د یو کال پوره کیدو مبارکي وایم او ستاسو کوښښونه تحریك ته دقدر وړ دي نو د ښه توفیق دعا درته کوم .

دعلمي مضامینو په لیکلو سره ټول تحریك او عام مسلمانان خوشاله دي د خیر په هر کار کي چي نیت سم وي او اخلاص وي هغه ښه نتیجه لري له دي نه وروسته دي هم الله تعالي توفیق درکړي چي د سنګر له جهاد سره سم د قلم جهاد هم پر مخ بوزي او د مسلمانانو فکرونه په لیکنو او ښو نصیحتونو سره روښانه کړي .

والسلام

داسلام خادم: ملا محمد عمر «مجاهد»

په ملګرو ملتونو کي داسلامي دولت سفیر او دائمي نماینده مولوي عبدالحکیم «مجاهد» له شریعت اوونیزي سره په مرکه کي:

اسلامي کانفرانس (OIC) دریاني دناروا اداري نمایندګي پاي ته ورسوله

دربانی نماینده چي دملګرو ملتونو دښمان په استعمالولو کانفرانس ته ننوتلي وو دامنیتي پولیسو لخوا بیرته وشړل شو

پوښتنه : محترم مولوي صاحب عبدالحکیم مجاهد څو ورځي مخکي تاسو د یوه هیئت په ترکیب کي په جاکارتاکي د اسلامي کانفرانس (OIC) د خارجه چارو د وزیرانو غونډي ته د افغانستان د اسلامي دولت په نمایندګي تشریف وړي وو، که مهرباني وکړي هلته ستاسو د فعالیتونو په هکله د شریعت اوونیزي لوستونکو ته معلومات ورکړي ؟

ځواب : د لوي اوښونکي خداي په نامه هو! د اسلامي کانفرانس په څلور ویشتمه غونډه کي چي د دسامبر په (٦ مخ)

دبګرام له استقامت نه ددښمن تعرض شند شو

دباختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي:- داسلام دښمنانو دبګرام له استقامت نه دافغانستان داسلامي اردو دمجاهدینو په قطعاتو او جزوتامونو باندي تعرض وکړ چي داسلامي اردو دمجاهدینو دسختو ګذارونو په نتیجه کي دښمن ته دسر او مال درانه زیانونه واوښتل.

پدي ناکام تعرض کي ددښمن دوه تنه افراد ووژل شول، اته تنه ټپیان شول، او دهغوي یوه زیاته اندازه وسله او مهمات په ولجه ونیول شول. داسلامي اردو دمجاهدینو قطعات او جزوتامونه لوړ مورال لري او دخپلو سنګرونو په ټینګولو بوخت دي. دښمن دخپلو وروستیو ماتو له امله وارخطا دي. او ددغو ماتو دجبران لپاره غیر پوځي سیمي او دخلکو داستوګني سیمي بمباروي.

دیوه بل خبر له مخي په فتحه شوېو سیمو کي داسلامي اردو دمجاهدینو دتصفیوي عملیاتو په نتیجه کي زیاته اندازه وسله او مهمات تر لاسه شول. په دغه وسلو کي څلور D, C تو پونه بوټالګ، یو جیپ موټر او دوسلو پنځه ویښورګاني چي د ډول ډول وسلو په سل ګونو صندوقه مهمات پکي دي دماني خوړلي او تښتیدلي دښمن نه ترلاس شوي دي.

دافغانستان داسلامي دولت دسرپرستي شوری مرستیال محترم ملا محمد حسن آخوند دپل خشتي له جامع مسجد څخه لیدنه وکړه

دشریعت اوونیزي دخبریال دخبر له مخي دسرپرستي شوری مرستیال محترم ملا محمد حسن آخوند دسي شنبي په ورځ دپل خشتي دجامع جومات څخه لیدنه وکړه او داوداسه دځایونو دترمیم او نورو سهولتونو په خاطر یې اړونده مراجعو ته دجدي اقدام کولو لازم هدایت وکړل.

دیوبل خبر له مخي داسلامي دولت دسرپرستي شوری او داوبو او بریښنا دوزارت دخاصي پاملرني په نتیجه کي دپل خشتي مسجد دبریښنا جریان بیا فعال شوي دي.

دیادوني وړ ده چي دپل خشتي جامع مسجد بریښنا له تیرو څو کالو را په دي خوا قطع شوي وه چي داسلامي دولت دخاصي پاملرني په نتیجه کي بیا فعاله شوه.

شريعت اوونیزي کابل کي په خپرونو پیل وکړ

څرنګه چي د طالبانو د اسلامي تحریك نشراتي ارګان (شریعت اوونیزي) د یوه کال په موده کي له هیواد نه بهر خپروني درلودي، خو اوس چي د لوي خداي«ج» په فضل کابل ازاد، شریعت نافذ او امن قایم شو د مشرانو په لزوم دید او هدایت سره په کابل کي د دوهم کال په خپرونو پیل وکړ په پېښور میشته ګرانو لیکوالانو، شاعرانو او ادیبانو څخه هیله من یو چي خپل مضمونونه، شعرونه، مقالي او تبصري په پېښور کي دطالبانو نمایندګي او افغان سر قنسل ته ورکړي چي دشریعت اداري ته یې را ولیږي.

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

لومړي ګلیزه

د طالبانو د اسلامي تحریك او دشریعت اوونیزي کارکوونکي ویاړي او د الله تعالي شکر ادا کوي چي ددغي درني اوونیزي په یو کلن عمر کي یې د هغه څه توفیق ورکړ چي نشراتي بریالي کړنلاره ورته ویل کیداي شي که د الله تعالي توفیق او سمه لارښوونه، نه واي نو د تیر کال په اوږدوکي ډیر کړکیچونه ، پیچومي، لوړي، ژوري، او داسي نري لیاري یې مخي ته ورغلي چي له هغو نه په روغ لاس تیریدل ګران کار ؤ ، یو خو له دي امله چي دغي بختوري اوونیزي ته دشریعت لوي مقدس نوم وریوري دي او د هغه سپیڅلي حیثیت ساتل زښته زيات احتیاط غواړي او بل له دي کبله چي دغه اونیزه د طالبانو د اسلامي سپیڅلي تحریك ژبه ګڼله کیږي نو لکه څومره چي دغه پاك تحریك د اسلام له نظره درښت او مسلمانانو ته محبوبیت لري د ژبي ساتل یې هم ډیر پام او ځیرکتیا غواړي، له دي نه اخوا نوري خپروني هر څه لیکلي او خپرولي شي لکه څنګه چي موږ او تاسي لیدلي او لوستلي دي، بیا هم له ډیر احتیاط سره سره که کله له شرعي یا اخلاقي پولو څخه په

(٢) مخ

پاکستان په افغانستان کی نوی سفیر ټاکلی دي

دبي بي سي دراډیو له ریوټ سره سم پاکستان په افغانستان کي نوي سفیر ښاغلي عزیز خان ټاکلي دي. ښاغلي عزیز خان دنوښار اوسیدونکي او مخکي په مالیزیا کي دپاکستان سفیر ؤ.

• دپاکستان دغه اقدام په ښکاره سره ښیي چي پاکستان دافغانستان اسلامي دولت په رسمیت پیژني که څه هم پاکستان په رسمي ډول داسلامي دولت دپه رسمیت پیژندلو اعلان نه دي کړي.

دپاکستان دغه اقدام نور هیوادونه تشویقولاي شي چي دافغانستان اسلامي دولت په رسمیت وپیژني، دا چي تر اوسه پوري دافغانستان اسلامي دولت په رسمیت نه دي پیژندل شوي علت یې دادي چي دوي واقعي اسلامي دولت جوړکړي دي.

دهیواد دمرکز او ولایاتو تر منځ دکورني پسټ لیږل او را لیږل په نورمال ډول پیل شول

دمخابراتو دوزارت دیو خبر له مخي دکمکني او هوائي پسټونو راکړه ورکړه چي له څه مودي را پدي خوا دځینو عواملو له امله ځنډیدلي وه. دواکمنو مقاماتو دلارښود نو له امله بیا پیل او پستي سرویس په کورني او بهرني ډول سره په منظمه توګه جریان ومونده. خبر ځای زیاته کړه دهرات، کندهار، ننګرهار، لغمان او لوګر ولایتونو سره دراډیو ریلي او بیسیم دستګاه په واسطه دولایتي مخابري ارتباط بیا فعال او دکار دپروګرام له مخي دګرانو وطن والو په خدمت کي دي دهیواد دنورو ولایتونو دارتباط دتأمین په باب کار په چټکي روان دي.

دافغانستان د اسلامي دولت د سرپرستي شوری د مرستیال الحاج ملا محمد حسن پیغام

دطالبانو داسلامي تحریك دنشراتي ارګان

«شریعت اوونیزي» درنو مسئولینو

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

دا واقعیت دي چه دشریعت اوونیزه واقعاً داسلامي آرمانونو دخپرولو او نشرولو بهترینه وسیله ده په هر وخت او سختو شرائطو کی یې داسلام ددښمنانو سوال ته مناسب ځواب ورکړي دمشرانو مصاحبي یې په ښکلي انداز کی خپري کړي، خو یو څه چه زما زړه کی دي هغه دادي چي:

دشریعت اخبار باید داسلام ددین مقرات وي اوپه اسلام کي عطوفت محبت او انهیوالي کول اجتماعي ژوند دباره جدا جدا عنوانونه نشر کړي اوس چه په افغانستان کی اسلامي دولت راغلي داسلامي دولت تر عنوان لاندي متواتر مضامین نشر ته وسپاري د امیر او مادون مسئولینو واضح اوبیان کړي هر مطلب په داسي انداز کي نشر شي څنګه چه داسلام تقاضا وي.

(٦ مخ)

دشریعت اوونیزي دیو نشراتي کال دپوره کیدو له امله

داطلاعات او کلتور دوزیر محترم ملا امیر خان «متقي» پیغام:

دشریعت اونیزي کار کوونکو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

دشریعت اوونیزي دیوه کال بریمن عمر دپوره کیدلو په مناسبت خپل دزړه له کومي تبریکات درته وړاندي کوم. نه پوهیږم چي دا دشریعت اوونیزي نیکمرغي وګڼم چي ستاسي په څیر نامتو او تکړه لیکوالان یې پیدا کړیدي او که ستاسي نیکمرغي یې وبولم چي دشریعت په څیر درني او عالي مقامه اوونیزه کي حق ته خدمت کوي، دشریعت اوونیزه چي دتاسیس ویاړي داسلامي تحریك دمشرانو په لارښوونه تاسي تر لاسه کړي دي له تنګو امکاناتو او کمو وسائلو سره سره یې خپروني دیوه کال په اوږدو کي داسلامي تحریك له اهدافو سره سمي، په زړپوري او دارزښت وړدي، نو ځکه دشریعت اوونیزه دتحریك دغړو او ټولو (٦ مخ)

په دې ګڼه کي لولي

دشریعت تبصره	٢مخ
در فراق طالب شهید	٢مخ
دشریعت اوونیزي یوکلن...	٣مخ
تهاجم شش جدي...	٤مخ
دادب ملګري	٥مخ
ابو المعاني بیدل (رحمه الله)	٥مخ
کارمله!	ص٣

کشور مصر ایران را زیر انتقاد قرار داد

طبق ګزارش خبر ګزاري جهان کشور مصر دیروز از ایران تقاضا بعمل اورد تا از ایجاد پرابلم ها واختطافات در منطه خلیج خود داري کرده ودر مورد امنیت منطقه ابراز نګراني نمود.

عمرو موسي وزیر خارجه مصر به خبرنګاران ګفت شرق میانه پرابلم هاي زیادي از قدیم داشته وتمام کشورها بخصوص ایران باید از آنګیزش پرابلم ها وتهدید وتشنج در منطقه خود (ص١٦)

دشریعت اوونیزي دنشراتي بهیر دوهم کال دي ټولو مینه والو ته مبارك وي

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسئول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتکي»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۵۰۰) افغانی
په پاکستان کې (۲) کلداري
پته : کابل وزیراکبر خان مینه/ سړک۱۱/ کور (۵۲۰)
تیلفون : ۲۱۲۸۱ - ٦۲۸۵۹
پوسټ بکس : (٤۷۱)
په پېښور کې : دطالبانو نمایندګي/ تیلفون: ۸٤۰۲۲۱

د سرمقالې پاتې برخه

سهوه سره تیري شوي وي د شریعت اونیزې کارکوونکي او منسوبین له الله تعالی څخه بښنه غواړي او بندګانو ته بې علر وړاندې کوي .

په دې بهیر کې د تحریک له مشرانو، کشرانو او ټولو درنو لوستونکو نه د اوونیزې کارکوونکي ډېره مننه کوي څکه مشرانو تل له نیکو لارښوونو ، معقولې توجیه او تشویق نه، کشرانو او نورو قدرمنو لوستونکو قلمي او اخلاقي کومکونو څخه برخمن کړي دي له الله تعالی څخه دوي ټولو ته اجرونه غواړي .

درنو لوستونکو ! په تیر کال کې ستاسو له نیکو مشورو او قلمي کومکونو څخه د اونیزې کارکوونکو ته د لارې په رڼا کولو او خپرونیزو (نشراتي) تیمګړتیا وو په پوره کولو کې پوره ګټه رسیدلې ده ، اوس چې د اونیزې دنده لا پسې درنده او پراخه شوي ده له پخوا څخه زیاته ستاسې نیکو مشورو او قلمي همکاریو ته اړتیا لري، څکه چې دغه اونیزه بر سیره پر دې چې د طالبانو د اسلامي تحریک ژبه ده د نوي اسلامي دولت ارګان هم دي .

په اوس وخت کې که څه هم اسلامي دولت د کمونستانو پاتې شوي ، غلو، لوټمارو فاسقانو او مفسدینو له صفا کولو څخه نه دي فارغ شوي چې د هیواد بیرته‌ودانولو، د مسلمانو او غیرتمنو هیوادوالو په زخمونو د پټي لګولو د کونډو، یتیمانو او ځوریدلیو د اوښکو پاکولو ته یو مخ پام راوګرزوي ، خو بیا هم ګران هیواد وال لکه څومره چې د طالبانو له اسلامي تحریک سره د زړه له کومي مینه او ملاتړ لري هغومره د اسلامي تحریک له دولت نه تمه، توقعات او امیدونه هم لري د دولت درنو مشرانو ته ددوي د توقعاتو او غوښتنو رسولو لپاره سالمه او معقوله لاره ستاسو او د شریعت اونیزې ګډه همکاري ده، د اوونیزې کارکوونکي ستاسو صمیمي او د اخلاص نه ډکو همکاریو ته سترګې په لاره دي ،

ګرانو لوستونکو ! مونږ پوهیږو چې ستاسو د شریعت اونیزو د هرې ګڼې لوستلو ته سخته تنده اولیوالتیاوي په تیره هغه وروڼه او خویندې چې په لرې پرتوغر یې او شرقي هیوادونو کې د پردیسي شپې تیروي د اونیزې رسیدلو ته تریخ انتظار باسي، د اونیزې کارکونکو په خپل ټول وس سره د اهتمام کړې دي چې ټولو ته هره ګڼه په خپل وخت وروسوي خو بیا هم اعتراف کوي چې د وسایلو د کموالي یا بیخي نشتوالي له امله یې وس نه دې رسیدلې چې د درنو لوستونکو انتظار ته په خپل وخت ځواب ووایي، له دې نه وروسته به په ټول توان سره زیار باسي چې د الله تعالی په مرسته دغه تیمګړتیا او نوري تیمګړتیا وې پوره کړي، توفیق به له الله تعالی نه غواړو.

په سر لوړي مسلمان افغانستان کې د اسلامي نظام د یو مخیز ټینګښت ، روښانه او خوشاله راتلونکي په هیله .

کارمله!

المسترحم من الله «زرمن»

تا خو دولت پر ډیسي او مایوسي په داسې یوه فضا کې له دنیا نه سترګې پټې کړې چې ستا سکني رفیق (روس) لر تر لره په یوه دولتي روغتون کې دبستر کولو پیرزوینه دربانډې ونکړه، دا ولي یې دومره سپك او بې قدره وګڼلې!؟

تا خو په افغانستان کې ددوي دناولي مرام دپلي کولو لپاره هر څه په ځان منلي وو، تا خو په دغه لاره کې خپل ځان، خپلوان، مال او ناموس نه وو سپمولي، تا خو په دغه لاره کې دپوهنتون لوستلو له وخت نه دپارلمان تر غړیتوبه او بیا دپلاستکي جمهوري ریاست نه په ټول رتل شوي ژوند کې تر مرګه پوري په ډېر لوړ آواز بیا تیو ورکولو باندي خپل ستوني ځیري کړ، نو دا ولي یې دومره په سپکه سترګه درته وکتل!.

تا خو ددوي لپاره دافغانستان دپارلمان په انګړ کې ډیري لغتي وخوړلي هغه وخت چې مسلمانو وکیلانو را پرزولي وې او ستا دلارې ملګري(اناهیتا راتب زادي)ستا دژغورلو لپاره له پاسه ځان در باندي غوړولي ؤ او له تا سره جوخت هغې هم وهل وخوړل، نو بیا ولي !؟ نیمه خوا ځوانیمرګه ! ولې دې ټول دوړي شو!.

ته خو دکمونیزم په دولتي قاموس کې ددې ووړي چې ستا مړي یې دکرملین دمشرانو غوندي درسمي او عسکري مراسمو په ترڅ کې په ځانګري سانیتي سوځنتون کې ایره کړي او ایرې دې یې په ځانګري ډبلي کې ساتلي واي، نو داولي یې ستا مړي له خپلي پرګني څخه په سپکتیا سره دافغانستان هغي خاوري ته را وشاړه چې تا په کلونو کلونو دهغي دپلورلو - پلورل څه چې - ډېې یې ورکولو زیاروته ایستلي وو خو ته بیا تشکر ورنه وکړه چې ستا مړي یې دصابون جوړولو ځاي ته نه ولیږداوه! ته خو ددوي هغه ټومبالي اتل او قهرمان وې چې دبیانیي په وخت کې به دې هوا په سوکانو ځیري ځیري کړه، نو بیا ولي ؟اي ارمانجنه! ولي یې په دوه پیسي کړې!.

په تیره تیره، ته خو دروسانو هغه منلي استاځی وې چې د۱۳۵۸ لمریزکال دمرغومي په (٦) مه یې له ډېري مینې نه دکابل دستهوږ یرګانو په ځاي دتاجکستان له ستهوږیرګانو څخه ستا دشایسته سینګار جمهوریت ټرې ته واوراوه او بیا یې دپوځي الوتکو په بهیر کې په توره شپه افغانستان ته دنازولي ناوکي په شان او شوکت سره راوړې، نو بیا ولي؟ اي مورخوړلیه! ولي دومره وربانډي ارزانه شوي چې دخپلو چپړاسیانو په سترګه یې درته ونه کتل! ؛

تا خو ددوي دخوشالولو لپاره ډېر مسلمان او ټومبالي وطنوال وژلي وو او که دې وس رسیدلاي واي ټول به دي وژلي وو، نو بیا ولي! اي خوارکیه! ولي یې په تا دومره پیرزوینه ونه کړه چې ستا ارمانجنه، پردیسه او ستړي مړي په یوه دولتي روغتون کې وخیژي! دا واړه څکه چې دپردولپاره چوپړوهل تل دغسي پایله او نتیجه لري، دپردیو دا طبیعت دي چې یو ځوك دځان نوكر کړي نو یې تر هر څه دمخه له خپل ټاټوبي (هیواد) څخه بیګانه او له خپلو خلکو سره دښمن کړي، بیا تر هغه وخته پوري ټاکلي ځیره ورکوي تر څو چې ددوي چوپړوهلي شي له هغه نه وروسته یې لکه دجواري ټانټه ایسته غورزوي!

کارمله! هو ! ته خو نیمه خوا، ارمانجن او له رفیقانو (روس) نه ګیله من ولاړې، هروصرو به دې اوس خپل کړلي ریبلي او دخپل عمل حاصلات به دې لیدلي وي، په تا باندي خو یې په ژوند ې دا خبره منلي وه چې خداي تعالی نشته هر څه کوه! نعوذ بالله تعالی او تا هم ددغي دهري عقیدې په خپرولو کې ټول عمر ستوني ځیري کړ او ډېري هلي ځلي دې وکړي خو کله چې له مرګ نه وروسته تکیر او منکر درته را غلل نو تا به څه ځواب ورکړي وي! هر څه چې وي مګر په عین الیقین سره به پوهیدلي یې چې الله تعالی جل جلاله دلوي قدرت خاوند او لا یزال شته دي،

هو ! نه به اوس په دې هم پوهیدلي یې چې په ژوند کې له الله تعالی، دهغه له شریعت او دهغه له مخلوق سره دکافرانو دخوشالولو لپاره دښمنې او دپردو چوپړي وهل څومره ډېر ددنیوي ذلت او اخروي عذاب وسیله ګرځي! ور سره به دې دغه ارمان هم کړي وي چې کاشکي له مرګ نه مخکې پوهیدلي واي؛ مګر مصیبت دادي چې له مرګ نه وروسته ارمانونه کول - نه ناته او نه پل چاته - هیڅ ګټه نه لري!

کارمله! که له تا نه په ټاټوبي سره وارثیر شو نو داستا په شان دپردو چوپړوهونکي ټاټوبي خوري ځانونه وپوهوي چې ستا غوندي دپردو دخوشالولو لپاره افغانان په تیوپتو ولي، څکه چې بیا په ارمان ګټه ورته ونه رسوي.

کارمله ! تا او دتا ،ملګو(ترکي - أمین) او خلقیو (نجیب او نورو) ډېري هلي ځلي وکړي چې ټول افغانان ووژلي او څکه یې روس ته ورکړي خو دغه ګار هیڅ ونکړاي شو څکه چې هر څه دالله تعالی په واك او اختیار کې دي، افغانان لا اوس هم ژوندي او تکړه دي الحمد لله دالله تعالی په فضل او مرسته یې وکولاي شول چې ستا ورفیقانو (شوروي اتحاد) وسپینږسرو پوځ له سختې رسوا ماتې سره مخامخ کړي په هغه برسیره یې دشوروي نوم دنړۍ له جغرافیې او نقشې نه ورك کړ او هم یې له هغه نه وروسته بیا ستا په شان دشوروي پاتې شونې ګوډاګیان چې دچور او تالان، شر او فساد بازار یې تود کړي ؤ دالله تعالی په فضل اومرسته دهغو مخلصو بندګانو او دهیواد ریښتینو زامنو دطالبانو داسلامي تحریك تر رهبري لاندي وځپل، خواره واره یې کړل او انشاء الله تعالی ډېر ژر به یې بیخي ورك کړي.

الحمد لله په داسې حال کې چې ته او ستا ډاکټر نجیب دواړه دتوروخاورو بندیان یاستي زموږ په وران ټاټوبي د پاك شریعت لمر راختلي دي، دامیدونو دیسرلي خوږي ورمې چلیږي او هیوادوالو دخپلې ویجاړې شوي مینې دبیا آبادولو لپاره کلکه ملاتړلې ده او په تندي سره په کارونو لګیادي دالله تعالی فضل او کرم ته امید لرو چې ډېر ژر به دغه دتومبالیو مجاهدینو هیواد سمسور، دشهیدانو کرامو (رحمة الله علیهم) او په هغو باندي دخوږمنو ژوندو ارمانونه تر سره شي، یو ځل بیا به انشاء الله تعالی په خپل سر لوړي ټاټوبي کې دخوشالي او سوکالي ژوند پیل کړي.

مګر خوارکیه کارمله! چې دافغانانو ازاد خوشال او سوکاله ژوند دې هیڅ نشواي زغملي زهره چاودې شوي ګارمله ! ستا کمونستو استاذانو یوه خیالي چورت نه فلسفي بڼه ورکړې وه چې دهغې دازموینې لپاره یې په شلهما ؤ کلونو کې په ملیاردونو انسانان ووژل، په ملیونونو ټپه او سپني او باروت یې دربانډې ووروولي، په ملیونونو کلو متره څمکه یې تر خپل لاس لاندې په زور سره راوستله دسردې انه لسیزې یې هغه دروغژنه فلسفه دبرچې او ټوپك په زور په خلکو وچلوله، مګر دومره بوچه یې ګټي او منفوره فلسفه وځنله چې لومړي هغو خلکو مسترده کړه چې له تا نه زیات یې دهغې په خورولو کې خپل ستوني ځیرلي ؤ، اوس یې دغربي کاپیټالیزم هغې ګولي ته لمن غوړولي ده چې کلونه کلونه یې دښمني ورسره شرولپه خو له دې هر څه سره ته خوارکي هم له ساده ګټهو نه - چې تا ایمان وربانډي راوړي و - او هم له صعنوي ګټهو نه - چې دابدي ژوند پانګه او زیرمه ده- یې برخې ولاړې ډېر افسوس ستا په حال دي، دغه افسوس به هغه وخت څوچنده وي که ته په هغه دهري او الحادي عقیده له دنیا نه تللي یې څکه چې اوس به دي قبر ددوزخ یوه کنده وي، کاشکي ستا په شان خلکو عبرت اخستي واي؛ او که چیري دي په ژوند الله تعالی ته په اخلاص توبه او استغفار کړې وي نو بیا دالله تعالی رحمتونه ډېر زیات دي،

در فراق طالب شهید

خادم أحمد «حقیقي»

آنانکه از تبار خورشیدند وز سلاله نور شراره عشقند وشمع شعور، آنانیکه در بسیط زمین لاله کاشتند قلبهاي از پاره ویپرایه هاي خون گلگونه رایتي به سماي افراشتند.

آنانکه شعر هستي را باتکه پاره هاي تن وواژه هاي خوني ایمان ومایه هاي جان پدید آورده آهنګ دلنشین بقاء را، بر سر خګونه ګنبد افلاك نواختند آنانکه باخنجر خونشان سینه مستبر سیاهي را شګافته، خون سرخ بیداري وشور را برجګا دزمان جاري ساختند آنانکه شمع وجود خویش را بر بازوي بلند شب بر آویخته وبر پهنه خاك، شعله هاي ګرم شرف افشاندند، سخن از شهیدست، از آنانکه با قامت جانش، بر حقیقت دین واصالت اسلام وفرجام فاتحانه این مکتب ومغلوب بیت محتوم سیاهي وستم شهادت داده است... از انکه شمع ګونه دردل شب ها میسوزد ومي ګدازد وبر رواقهاي تیره، حیات وزوایاي تاریك زندګی پر توشو رو نشاط مي افشاند... سخن از شهید است، از آنکه مشعل است ودر ژرفناي تیره، اعصار وسیاهي هاي خوفناك وهراس انګیز، فراروي راهیان دیارحق نورمي افشاند ویا شعله هاي سرکش ورقصانش موجهاي مهاجم ظلمت را مي شکند وباریکه - راه لغزان مجاهدت را که به بیکرانه، جاوید مي انجامد مي نمایاند... سخن از شهیدست، از آنکه عاشق است عاشق پرواز... از آنکه کانون دلش لبالب از شعله وشراره وشوق وشیدائی است وشام جانش ، پرا از شمیم بهشتي ورایحه دلنواز شکفتن ... او که تنګناي تن خاکي را در مصاف با اهرین زشتخوي درون وشیاطین شیاد بیرون مي شکند ومرغ بلند پرواز روح را به آفاق آسمانها پرواز داده وبه قرب حق نایل مي شود... برادر طالب! شهادت افتخار است ومایه سعادت که همچون وریثه ګرانبها ومبارکي است که از پیشوایان صادق وپیشینان پاکباز مان به ما رسیده، امروز نقش تعیین کننده ونخستین را در مبارزات ګستر ده امت اسلام عموماً وملت ما خصوصاً داشته دارد، اګر قطور دردنامه خونیشتن را بګشائیم وسر ګذشتنامه خونین ملت مظلوم مان را باز بخوانیم مي بینیم که در بلنداي تاریخ هر ګاه دشمنان حقیقت وحاګمان ګذشته تاریخ باساز وبرګ کامل جنګي بر ما تاختنه اند ما با دستهاي خالي واما با قدرت خدائي وجذبات پرشور ایماني با نیروي لا یزال اراده بر مصاف شان بر خاسته وسینه عریان خویش را سپر تیرهاي وحشي وخونریز آنان کرده وپیشتباني بلند مان را چون آن تخته سخت سنګ، در برابر شمشیر هاي آخته بر ګرفته ایم... ودر فرجام، آنان بخاك وخون غلطیده ونقش زمین ګشته، شمشیر ها ونیزه هایشان فرو شکسته وتیروها وتوان شان متلاشي وتباه شده است، ولي ما با قامتي به بلنداي ابدیت در فراخناي وجو دایستاده وسرود پر ترنم ازادي ونعره تکبیر (الله اکبر) وکلمه پر برکت توحید ووحدانیت را سر داده ایم، زیرا که ما به منبع پایان ناپذیر ایمان وصل بوده ایم وبه قدرت قهار اراده مسلح... از طنین تکبیرمان شعله هاي مرګ مي باریده واز صلابت قهرمان طوفانهاي مهیب ... آتشفشان خشمشان، فوجهاي لشکر دشمن حاکمیت قرآن را بکام خویش فرو بلعیده وهستي اش به نیستي بدل ودر اشتعال سرکش ایمان مان ذوب میشده است وتنها این مابوده ایم که با چهره ګلګون وقامت استوار وبر قرار بر بلنداي پیروزي وفتح سر بر آفاق وافلاك سائیده وتاریخ را به پیش رانده ایم ... وفلسفه پیروز وغلبه خون بر شمشیر همین است وهمین......

برادر طالب !

وامروز نیز که سیل پر خروش تحریك اسلامي مان خشمګینانه وکف الوده نهیب میزند وبه پیش مي تازد ودر مسیر وسیل خون، سدهاي شر وفساد وظلم واستبداد را در هم شکسته ودیوار پر عظمت وشکوه عدل وداد را دو نهاد وبنیاد این انقلاب راستین واین سرزمین پیشین مي ګذارد. وبنیانهاي پوسیده وحشت وبربریت را بر مي اندازد وآنچه باعث تداوم وغرش تندر آسا وصهیب آن مي شود، همان در وقایه هاي خدائي ایمان واز خود ګذشتګي وایثار وفدا کاري فرزندان صدیق وراستین این سر زمین شیر پرور است که در ګهوار غیرت وشهامت بزرګ شده ودر دانشګاه ودیانت ووحدانیت پرورش یافته و در آغوش عزت وشرافت جوان وبرزوور ګشته.

این عاشقان سینه چاك ودریا دل است، صلابت پیکار، صاعقه خشم و آواز پر طنین تکبیر همینان است که اینك تندبهاي محکم وتزویر را درهم شکسته وچالهاي دپوچ ولایعني آشو بګران در هم پاشیده وزورا وخانه هاي قساوت وشقاوت را به سخره ګرفته است.

بلي ! همین شاهدان شهید وشناګران موجهاي خون وحماسه اند که امروز بزرګترین ومخوفتر هیولاي قرن ولانه وکاشانه شر وفساد را به خاك افګنده وآتش مذاب خشم خویش را بر سینه سیاه وي فرو مي ریزند....

د شریعت تبصره

د جدي شپږمه که دیخواني شوروي اتحاد دانتحار پیلامه

له تن نه اوولس کاله وړاندې دهمدې میاشتي په شپږمه دروسانو سرولښکرو له خپلو ټولو نظامي او مالي امکاناتو سره دټولو بین المللي، ملي او بشري اصولو پر خلاف زموږ دهیواد سرحدونه مات کړل او دافغانستان په سپیڅلي حریم یې یرغل وکړ، دافغانانو له ایمان جذبي کلتور، تاریخ او میراثي نه ناخبره روسانو چیبله وه چې دنورو جمهوریتونو په څیر به افغانستان هم ونیسي او په لږ وخت کې به نه یواځې دافغانانو فزیکي او مادي قوت له منځه یوسي بلکه په معنوي لحاظ به هم دافغانانو مذهب، کلتور او عنعنه بدله کړي او داسلام دمبارك دین نوم به ددوي دذهن له تختو څخه وینځي او دماتریالیستي او کمونیزم تخم به ددوي په مینځ کې وشیندي.

دروسانو پلان دا ؤ چې دافغانستان په هضمولو به دپاکستان مړیځ لمده او له لارې به یې ځان ګرمو اوبو او دجنوبي آسیا هیوادونو ته ورسوي، دروسانو په یرغل او ناروا تیري سره دافغانستان دمسلمان ملت جهادي قیام او عمومي پاڅون په ټول هیواد کې دطوفان په څیر پیل شو چې د۱۳۵۹ هـ ش کال دکابل دښاریانو دنر او ښځو او دهرات دمسلمانو ښاریانو دکب دخلور ویشتمي عمومي پاڅونونو، له هیواد نه ګاونډیو هیوادونو ته دمهاجرتونو لړۍ او په تش لاس او خلاص ټټر ددښمن مقابلې ته دافغانانو راوتلو، دکمونستانو شوم نیت هر چاته په ډاګه کړ، دجدې دشپږمي تیري روسان له ټیوال فشار او انزجار سره مخ کړل او تقریباً دنړۍ ټولو هیوادونو دا تجاوز وغنده او له افغانستان څخه یې دسره فوځ دوتلو سملستي غوښتنه وکړه.

روسانو په خپل دغه ظالمانه او احمقانه اقدام سره نه یوازې افغانان له یو ستر ناورین سره مخ کړل بلکه دغه عمل په خپله دشوروي اتحاد دسیاسي او جغرافیایي انتحار باعث وګرځیده چې په نظریاتي ډول یې دبې معنی او بې مفهومه ګوند او تیوري نوم هم دنړۍ دګوندنونو او نظریاتو دلست او جدول نه ولویده، دامپراطوري نوم یې دنړۍ له نقشي څخه ورك شو، نړیوال برم، نفوذ او دبدبه یې چې یو وخت به (سپر) طاقت بلل کیده له صفر سره مساوي شو په خپله هغو شرمیدلو کمونستانو چې یو وخت به یې لعین لینن ته (الیان کبیر) خطاب ګاوه او (نعوذ بالله) درود به یې پرې ویلې دکمونیزم له ازمویلو وروسته یې دهغه مجسمه محاکمه کړه او پړې په غاړه یې دمسکو او لینګراد په کوڅو کې کشاوه.

هو دهر باطل او طاغوت انجام همدا دي.

افغان چمن او باشهامته ولس چې دغیرت روح یې په رګ رګ کې حلول کړیدې تل دنړۍ مستکبرینو ته غاښ ماتوونکي ځواب ورکړیدې. دتاریخ په هنداره کې ددوي ویاړمنې کارنامې له ورایه ځلیږي.

دا ټولي دنیا ته ښکاره ده چې په دې مظلوم او بیچاره ولس روسانو او ددوي لاسپو څو دومره ظلم وکړ چې چنګیز او هلاکو یې له خلکو هیر کړ افغانانو په ګـان هر ډول درد او غم ومانه، دوینو دریابونه یې وبهیدل، لوږه اوتنده یې وزغمله خو دمتجاوزینو په وړاندې یې کلك مقاومت وکړ چې له څوارلس کاله قربانیو وروسته یې وینو رنګ راووړ او دسر اوځان دقربانۍ په بیه یې ازادي واخسته او دروسانو ورووستي ګوډاګي دسیاسي او نظامي صحني نه ویستلو ته اړشو، دنجیب درژیم له سقوط وروسته هیله کیده چې نور به دافغانانو دردونه پای ته ورسیږي او اسلامي نظام به حاکم شي. خو درباني مسعود او کمونستانو ائتلافي اداري دشهیدانو په دې ارمان خاوري واړولې اود جهاد ثمره یې یو ځل بیا داسلام ددښمنانو لمنې ته وغورځوله، کمونستانو ته په حکومت کې کلیدي رول ورکړل شو وزارتونه او حساس پوستونه یې ورسره وویشل دخاد بدنامه او دملیونونو افغانانو قاتله شبکه یې نوره هم فعاله کړه دحکومت طرزیې له کمونستي رژیم سره سیستماتیك شباهت‌ونه درلودل اخلاقي او اداري فساد، بې هدفه جګړې، دنظم او امنیت نشتوالي، تو کمیز اختلافات ورځ په ورځ ډېریدل او ددې سبب شول چې له هیواده دمهاجرتونو سلسله نوره هم دوامداره شي، بهرنیو دښمنانو ته دلاسوهنې زرینه موقع په لاس ورغله ددې په ځاي چې له روسانو نه جنګي غرامت او دافغانانو دوینو پوښتنه وشي دې عظیم قاتل او دښمن ته ددوستۍ لاس ورکړل شو، دجهاد په هکله نړیوالو ته غلط تأثر ورکړل شو او جهادیو تروریستي عمل معرفي شو. ریښتوني مجاهدین له صحنې له وویستل شول.

دطالبانو اسلامي تحریك چې دولس له مخلصو بچیانو نه جوړشویدې او همدې داسلام پتنګانو دجهاد په اوږدو کې نه هیریدونکي خدمتونه کړي او قربانۍ یې ورکړیدي دې حالت ته په کښته تور انتظار بې ځایه وباله دملت دخلاصون او اسلامي شریعت دتنفاذ لپاره دعمل میدان ته راووت او په لږ وخت کې یې دخداي په مرسته او دملت دملاتړ په اساس دمرکز په شمول دهیواد پنځه اویا برخه دمفسدینو او دملت ددښمنانو له ناپاکو منګولو تصفیه کړه او ژردې چې إنشاء الله دیاتي برخې مظلوم هیوادوال به هم ددوي له شر نه وژغورل شي.

اوه لس کاله پوره شول چې روسانو موږ ته دالحادیت، کمونیزم دردونو او وینو سوغات راوړ خو الحمد لله دتړدې دوه لسیزو اوږده مقاومت او هلوځلو وروسته نن دافغانستان مرکز کابل دملت دریښتونو وارثانو په لاس کې دي دجمهوري ریاست په ماڼۍ داسلام بیرغ رپیږي، شریعت په پوله معنی نافذ دي خو داسلام او ملت دښمنان په خاص ډول روسان چې په افغانستان کې دمجاهدو طالبانو داسلامي تحریك په لاس جوړ شوي حکومت او امنیت نه شي زغملي خپلو ګوډاګیانو ته دنده ورکړیده چې کړ کیچ نور هم اوږد کړي داسلامي نظام مخه ونیسي او په خپله په مستقیم ډول دخکړې اورته لمن وهي.

دوي پوهیږي چې که افغانان لږ دارام ساه واخلي نو دوي به بین المللي محکمي ته کشوي حساب به ورسره کوي، دوطن دلوټ او تالان او دشهیدانو دوینو پوښتنه به تري کوي.

موږ روسانو ته وایو چې دا پنځه کاله وړاندي جریانات موهیر شول چې بیا مو په پوره وقاحت دافغانانو دښمنۍ ته ملاتړلې ده آیا ستاسو مشرانو افغانستان ځانته دناسور ټپ اودسرطان ناروغي نه ده ګڼلي، آیا دتیښتي په وخت کې د امو په سیندمو دجنرال ګروموف له غم او وارخطایۍ نه ډك ساره اسویلي هیر شول، آیا دهغو روسي میندو اوښکوته ځواب لرئ چې بچیان یې ستاسو دغیر انساني او حریصانه احساس ښکار شویدي موږ د ۱۳۷۵ هـ ش کال دجدي دشپږمي دناورین په یادولو دخپل لوي خداي (ج) سره یوځل بیا دخپل دې عهد تجدید کوو چې داسلامي شریعت او اسلامي نظام دتنفاذ لپاره به له هیڅ ډول قربانۍ څخه ځان ونه سپمو دشهیدانو، کونډو او یتیمانو ارمان به تر سره کوو هیچاته به اجازه ورنه کړو چې داسلام مبارك نوم دخپلو ناروا هیلو لپاره استخدام کړي او هغه ظالمان او مفسدین چې دخپل ولس توقعاتو او امیدونو خلاف یې دجدي دشپږمي فاجعې اصلي عاملینوته پښا وروړیده دملت محکمي ته را کشوو داسلام برم او شان به لوړسانو په ټول افغانستان کې به اسلامي خلافت حاکموو ان شاء الله.

الحاج ملا محمد حسن

دشريعت اوونيزې يوكلن نشراتي بهير دپوهانو په نظر كې

ځرنګه چې دشريعت اوونيزې په ډېرو ستونځنو شيبو كي په كار پيل وكړ دا چې موږ له خپلو محدودو امكاناتو سره ځومره كار كړيدي قضاوت به لوستونكو ته پرېږدو چې د(مشت نمونه خروار) په شكل به دشريعت اوونيزې دځينو تنو دائمي لوستونكو او پوهانو نظر لوستونكو ته وړاندي كړو. (اداره)

دشريعت اوونيزې لومړي ګڼې دخلكو په زړونو كښې ځاي وموند

لكه ځرنګه چه وطنوالو ته پوره معلومه ده چه د (شريعت اوونيزې) ابتداء په يوه نازك پړاو او ناتوانه اقتصادي حالاتو كي ؤ شوه خلكو ددي تصور نه شواي كړاي چه په دومره لږه عرصه كي به الله رب العزت دي اوونيزې ته دومره زيات مقبوليت ور وبخښي. ځكه چې عموماً يوه اخبار يا جريدې لپاره لومړي ډېر زيات تدابير نيول كيږي دوخت روشن فكران او ليكوالان را جمع كيږي مشهور او معروف قلمكاران او اديبان خپل صلاحيتونه په كار اچوي او دهغي لپاره ماليـاتي پروګرامونه ترتيبوي...!

حال دا چي دشريعت اوونيزه په سختو او مشكلو حالاتو كي ديو څو تنو بوريانشينه او متدينو علماؤ او طالبانو په مخلصانه او صادقانه سعي او كوښښ سره په ډېر حسن او جميل شكل او صورت كي دنو بياناتو او عمده سرخيو، علمي تجزيو او سياسي تبصرو باندي مزين دخلكو عام منظر ته را ووته او دهماغي لومړي ګڼې په لوستلو سره يې په عمومي ډول دټولو مسلمانانو په زړونو كښې او بالخصوص دراقم الحروف په زړه كي يو عمده او په زړه پوري مقام حاصل او سمدستي مو په مشبادل ډول دخولو څخه ددي اوونيزې دچلونكو مسؤلينو او كاركنانو لپاره په لس هاو دعائيه كلماتي را ووتلي او دالله جل جلاله څخه مو ددوي دپاره دتوفيق غوښتنه وكړه او تر نن ورځې پوري دهماغه قلبي دعاګانو لړۍ روانه ده چه الله جل جلاله دي اوونيزې ته نور زيات قدر ومنزلت ور وبخښي او الله (ج) دي ددي اخبار ومسئولينو ته نور زيات توفيق وركړي چه ددي اخبار له لاري دټولي نړۍ ومحكومو اقوامو ته دافغانستان پر خاوره كښې دنافذ شوي اسلامي حكومت او قرآني نظام هغه فطري ښيګڼي او دابدي كاميابي او بريـروزي لاري او هم ورته داستقلال او حريت دلاسته راوړلو هغه قرآني درسونه ور په ګوته كړي دكومو نقشه چې الله (ج) په قران كښې او هم ئي دهغه عملي نمونه دپيغمبر دانقلاب په شكل وصورت كښې وډول انسانيت ته ورونښودله. -ومن الله التوفيق-

حمد الله "زاهد"

دصنائع خفيفه او غذائي موادو سر پرست وزير

دشريعت اوونيزه رينښتيا چې دمؤمن ملت دزړه آواز دی

دشريعت اوونيزه چه پركال مخته په زړه پوري اسلامي او سياسي دارنګ نشريات پيل كړل چه نه تنها دخپل مثل جريدونه دواقعيتونو دمنعكس كولو په لړ كي مخ كي شوه بلكه په افغانستان كي دطالبانو داسلامي تحريك داسلامي تشخص، جهادي كارنامو او سياسي پوهي اورشد په لړكي يې په زړه پوري خونده ور او مؤثري خبروني سرته رسولي او ورسره جوخت يې دقطاع الطريقو، داړه ماړانو دپردو اجرانو او ملحدانو دغير اسلامي، مردود واو ناوړه اعمالونه يې وخت په وخت پرده پورته كړي او افشا كړي دي. په رينښتيا سره دا اوونيزه دافغانستان دوطن دوستو مجاهدو او متدينو بچيانو دضمير ترجمانه او دوطن دپاكو شهيدانو او معيوبينو دزړونو دپاكو ارمانونو بيانو ونكي ده كه ځوك يې مضامين په ځير وګوري نو پوهيږي چه په هره كرښه كي حكمتونه او په هر مخ كي يې ګوا كي داتلس كلن جهاد سپيځلي اهدافو او ارمانونه انګور او نغښتي دي او هر چا ته دهغه دزړه غوښتني ور په ګوته كوي. هوا يوه جريده چه هدف يې دخلكو دضمير ترجماني وي بايد دهغداراز نشرياتو او خبرونو په درلودلو سره دخلكو په زړه كي ځاي پيدا كړي او دهغوي دغوښتنو سره سم دهغوي دزړونو په هنداره كي دخپل محبوبيت نښي ځرګندي او دزخمي زړونو ملهم شي.

دا ويلاي شم چه دشريعت اوونيزې داسلام ترجمان دجهاد پاسبانه او داسلامي انقلاب روښانه عنوان ده، دشهيدانو ارمان او دزخمي زړونو سوي آواز ده له بلي خوا دا وايم چي دهغه دي اوونيزې علمي او سياسي مضامين داسي په زړه پوري دي چه نه تنها نن بلكه سبا او دراتلونكي نسل لپاره هم ځلانده مشعل او داسلافو خوږ پيغام دي زه دا دعا كوم چه الله تعالى دي دهغدي اوونيزې كاركونكو ته نور هم مزيد توفيق ور په برخه كړي تر څو دهغدي جريدي دلازياتو بريالیتوبونه او مؤثرو خبرونو او ښه رنګ وركولو كي نور هم ښه كردار ادا كړي او له دي لياري دعامه اذهانو دتنويرولو، پوهولو او مطمئن كولو په ميدان كي خپل ديني سياسي عقيدوي او پوره اسلامي رسالت سرته ورسوي او الله تعالى دي دهغه جملي ته وګرځوي چې: «اصلها ثابت وفرعها في السماء تؤتي اكلها كل حين بإذن الله وما ذلك على الله بعزيز»

-مولوي صديقي-

له شريعت اوونيزې سره زما پخواني مينه

پدي كي به شك نه وي چه زه دادب وعلم او هنر سره زيانه مينه لرم او ځما به تل دا كوښش ؤو چه خپله مينه پداسي چوكاټ كي خوندي وساتم چه هغه چوكاټ ددي وړ او جوګه وي چه دغه مينه ما منزل مقصود ته چه هغه دانسان ته انسان جوړيدل او بالاخره په اخروي ژوندانه كي خوشحاله ژوند تيرول دي وررورسوي.

دمقدس جهاد په څوارلس كلنه موده كي دادب دعلم او هنر ډېري رسالي مجلي او اخبارونه مي تر نظر او كتني لاندي تيري شوي خو كه په يوه برخه كي به ئي دحق او حقيقت دعدل او انصاف نه ځخه بحث شوي ؤ نو په بله برخه كي به ئي په حقايقو دومره خاوري اړول شوي وي چه د عدل او انصاف تلي به خپله اصلي موازنه ځنه چه خپل اصلي ځيره هم اړولي وه او پداسي ضد ونقيص رد وبدل مضامينو باندي به ډك ؤو چه دتلي بله پله به تشه پاتي شوي وه او كه دتلي دواړه پلي به هم ډكي وي خو نتيجه به ئي داسي وه چه ديوه جناب او يوه شخص په لمنه كي ټوله ورتشه شوي وه چه پدي وخت كي پخپله مينه كي دزياتو مايوسيو سره مخامخ شوي وم.

دوخت په تيريدو پداسي حال كي چه زه دعلم او ادب مبني دينه مجبوره كړي وم چه بايد دغي مبني ته درسيدو داسي ځاله پيدا كړم چه هغه دټولو آفتونو نه په امن او اطمئناني وي لوي خداي (جل جلاله) فضل وكړ او دطالبانو داسلامي تحريك په بركت ځما دميني دخوندي ساتلو جونګړه جوړه او دشريعت اوونيزه يو كال وړاندي په چاپ او نشر ورسيده.

خداي حاضر او شاهد دحال دي چه دشريعت اوونيزې په ليدو او دداوړو مخونو په لوستو مي خپله پخواني هيښه پخپل ځاي وشمير له او داسي زړه راشكونكي مطالب شعرونه او دحق او حقيقت نه ډكي ليكني مي تر سترګو شوي كوم چه ددغه شان ويناؤو او ليكنو په طمعه كلونه كلونه په انتظار كي وم.

دشريعت اوونيزه لكه ځنګه چي ئي له نامه بريښي چي پدي چوكاټ كي به ټول اړخونه دعدل او انصاف په تله تلل شوي او ساتل شوي وي او هم هغه ليكني به درنو لوستونكو ته وړاندي شوي وي كوم چه په هغي سره انسان خپل اصلي‌مسيرته راوستل كيږي او ددنيا او آخرت نيكمرغه لاره ورښودل كيږي واقعاً چه دشريعت اوونيزې چه دادي يوي كال ئي پوره كيږي دغه اصل په پام كي نيولي له پيل نه تر دي وخته ئي خپله نيغه شرعي لاره نيولي اوپدي دومره سختو اقتصادي حالاتو او ګـلو وډو شـرايطو كي ئي دمـخي ټولي ستونزي دخپل وړاندي والي په مخ كي ځنګه اوځنډيندي ګرځولي او دائي هڅه كړي چه پدغه مقدسه لاره كي له يوي ورځي نه بلي ته پاخه او مضبوط ګامونه واخلي.

خداي حاضر او شاهد دحال دي شخصاً زه خپله چه دشريعت اوونيزې كومه برخه سرمقالي شعر او يا نوري ليكني مي تر سترګو شي نو سترګې مي په همغي ښخي شي دمضمون يا شعري محتوي ښكلا او ترتيب ددي اجازه نه راكوي چه سترګې ورڅخه بل مطلب يا شعر ته واړوم خو دځوګلي تكراري لوستو څخه وروسته پخپل زړه ډېر زور واچوم تر څو سترګي نورو ليكنوته واړوم چه پله ليكنه وګورم په داسي حال كي چه دلړي ليكني نه اثر ځما په زړه وي ددوهم مطلب په لوستو همدغه شان دلړي‌مطلب كانه را باندي وشي آن تردي چه دغه قصه دشريعت اوونيزې په ټولو ليكنو كي راته راپيښه شي.

درنو لوستونكو:- ددي لپاره چه له يوي خوا:

ستا دخايست ګلونه ډېر دي - زولي مي تنګه زه به كوم كوم ټولومه‌دشريعت اوونيزې نيك او صاف ډېر زيات دي او ځما دعلم او ادب او هنر دپخواني ميني ديوره كيدو يواځني مرجع ده او له بلي خوا دوخت نشتوالي دي نو تاسو درنو لوستونكو او دشريعت درنو كاركونكو ته دي پاك خداي دتير كال دبي پايانه هلو ځلو او لويو قربانيو عظيم اجرونه ور په برخه كړي او په راتلونكي كي هم ورته دلا زيات بريالیتوب او په نورو ثوابونو كي دبرخمن كيدو غوښتنه كوم والسلام

ملامحمد اسحاق «نظامي»

دشريعت اوونيزه يو بياوري او بارزښته اخبار دي

رښتيا دشريعت اوونيزه ډېر بياوري او باارزښته اخبار دي چي لوستونكي ورسره زيانه مينه لري، او دكتلو او لوستلو په شيبو كښي دخوشحالي احساس كوي.

زما يادېږي چي دشريعت اوونيزې يوه ګڼه كوټني ته په خپل وخت را ونه رسيده نو له يوه كتابتون څخه كاركونكي راغي او په خپله محلي لهجه يې ووئيل: «دشريعت اخبار تدي راغلي؟ په هغه خداي دونه مراجعين دي، زه يې سخت په عذاب كړي يم، او دلته يې راوليږلم».

زما په فكر دشريعت اوونيزه ځكه ډېر لوستونكي او مينه وال لري چي له يوي خوا رښتوني او معياري خبروني لري او دبلي خوا دمخلصو مسلمانو اشخاصو دهڅو او زياتو هلو ځلو په نتيجه كښي منځ ته راغلي او اساس اوخښته يې پر تقوي ايښودل شويده.

هوا ډېره معياري ده چي دبيلګي په توګه ځنو ټكو يادونه كوم:

۱- دخبرونو په خپرولو كښي يې درښتنولي او امانت داري مراعات، او دډېرو مبالغو څخه ځان ساتلي.

۲- دطالبانو داسلامي تحريك دارمانونو و اهدافو بشپړه ترجماني او په جامعه كښي دشريعت دتطبيق پر انعكاساتو او اغيزو رڼا اچول.

۳- مسلمان ملت ته داسلامي تحريك او افغانستان ددښمنانو اصلي بڼي او ځيري ښودل او دهغوي دټولو مكرونو او دسيسو څخه پرده پورته كول.

٤- دګران هيواد افغانستان پر مهمو پېښو، سياسي او بين المللي حوادثو او نورو مختلفو موضوعاتو تبصري او مقالي ليكل.

٥- احساساتي ادبي زاويي ته دمنظم پروګرام په چوكاټ كي ځاي وركول.

٦- داخبار دټولو پروګرامونو نظم او نسق ساتل.

او داسي نوري بي شميره ښكلاوي لري چي په دي لنډ او تنګ وخت كښي يې ليكل ګران دي خو البته ځني وړانديزونه شته كيداي شي داوونيزې دمسئولينو دتوجه وړ وګرځي:

۱- دعامو خلكو نظرياتو، ستونزو او مسائلو ته زيانه پاملرنه.

۲- كه اوونيزه انتقادي زاويه ولري او په هغه كي ددولتي اداراتو منفي او مثبت ټكي په نښه شي ډېر مثبت اثرات به ولري.

۳- كه دوړو لپاره امتحاني پوښتني يا داسلامي دين په هكله مختصر معلومات وركړل شي بي فائدي به نوي.

٤- كه په هره ګڼه كښي دبڼځو يوي داسي پوښتني ته ځواب ووئيل شي چې يواځي په هغوي پوري اړه لري ډېر ښه نتائج به ولري... په اخير كښي داسلام په لاركښي دزيات خدمت كولو توفيق درته غواړم والسلام ...

ستاسو ورور جان محمد مدني

۷ جدي ۱۳۷۵ هـ ش.

دشريعت اوونيزي ويارمنو ملګرو !

له هر څه وړاندي زموږ نيكي هيلي قبولي كړي. الله تعالى مو په خپلو در سپارل شويودندوكښي نور هم بريالي كړه

درنو ورونوا له كومه وخته چي دشريعت اوونيزه دفرهنګ ډګر ته راوتلي نو ورسره جخت زموږ علاقه او هر وخت دهغي په معياري مطالبو او معلوماتي او عقيدوي سلسلو، شعرونو او ادبي ټوټو او ... خپله تنده ماتوم.

ځرنګه چي دشريعت اوونيزې په ډېرو ناساعدو شرائطو او په ډېر كم پرسونل سره دافغانستان، دطالبانو اسلامي تحريك ته دپادونې وړ او په پراخه پيمانه خدمتونه كړيدي او دوام لري له همدي ځايه ده چي دشريعت اوونيزه زموږ دټولني دهر فرد په زړه كښي ځانګړي مقام لري.

هوا دشريعت اوونيزه زموږ په اسلامي فرهنګ كښي يوه پيژندل شوي اوزړونو ته نيږدي علمي، عقيدوي، سياسي او ادبي هستي شوه.

او لري نه ده چي په راتلونكي كال كي به زموږ په فرهنګ كښي ډېر لوړ او اوچت مقام تر لاسه كړي.

په تير كال كښي دشريعت اوونيزه دلوړ معيار او ښه صحافت په درلودلو سره په دوامداره توګه ښه وچليده چي دملګرو ملتونو ته مو ديوي تنقدي كتني ترعنوان لاندي سلسلي دپادونې وړ دي.

په راتلونكي كښي هم هيله لرو چي دلوستونكيو دذهنونو دروښانولو او باطل له مخي څخه پرده ليري كولو په اړه به خپل فعاليت ته هم دوام وركړي.

په پاي كښي څو غوښتني لرم هغه دا چي به راتلونكي كال كښي مطالب لږ له دي نه هم مستند قوي شي سلسلي ډېري اوردي نه وي او جـملـه بندي ئي په يوه خـاص انداز كي وشي نو دا به نور هم اوونيزې ته ښكلا وبخښي او دوهم دا چي كه ادبي صفحي ته لږ لدي نه زيانه توجه وشي څو شعرونه او ادبي ټوټي په لوړ قوت او دښه ادب لخوا نشر شي او ضعيف شعر يا ټوټي ته ځاي ور نكړل شي همدا راز كه په همدي صفحه كښي ځني ليكوالان وروپه دمركي او يا بلي طريقي له مخي لوستونكو ته معرفي شي.

دريم دا چي كه يو سلسله د(ميګويد وميګويم)(شوخي با مطبوعات)او يا تر بل عنوان لاندي شروع شي او جـواب دشريعت لخوا څخه وركول كيږي نو دا هم لوستونكيو ته ارزښت لري او محبوبيت پيدا كوي.

څلورم دا چي سلسلي كه تر ژر ژر بدلي شي ځكه تر پنځه يا شپږ واره خپريدلو وروسته بيا سلسله خپل ارزښت له لاسه وركوي.

پنځم دا چي كه دشهادت‌مجاهد، دفاع‌او اميد اخبارونو څخه يو مشترك ستون جوړ شي او له هغو مطالبو څخه كوم چي دوي په خپلو كښي دكفر، فساد او دغلامي ټاپي لګولي دي يوه يوه حمله را واخستل شي او يو‌ه‌لنډه سلسله ور څخه جوړه شي او دا په ملت ته دقضاوت لپاره ښه لاره هواره كړي.

شپږم دا چي كه سياسي مضامين زيات شي نو دا به نور هم ښه شي ځكه فعلي سياسي مضامين تر سلسلو يوه اندازه دلچسپي لري.

نور مو پر لوي او مهربان خداي سپارم ستاسو دښه ژوند او بريالیتوب په هيله يم دخداي په امان

عبد الحنان «همت»

دهيواد ورځپاڼي رئيس

شريعت دټولو آرمان

دا خو بو انكار نه منونكي حقيقت دي چي دهر فكري سازمان لپاره چي غواړي په ټولنه كښي دي اثر رسـوخ ولري دشرائطو سره سم ټولو عصري غوښتنوته جدي پاملرنه ضروري بلل كيږي ورځپاڼي جريدي مجلي، داسي نوره خپروني د دا ډول سازمانونو دپرمختګ او دزياتو كسانو د ورجلبولو په لاره كي خو را مـهم رول لوبولي او لوبوي يې دشريعت اوه نيزه چي دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك دسپيڅليو هدفونو ترجمان او نږدي يو كال كيږي چي دصحافت ميدان ته را وتلي ده. له خپل ابتداء څخه تر نه پوري دخپل رسالت په ادا كولو كي مثبت كردار تر سره كړي دصحافت وقار او حيثيت يې له كم او كيف دواړو خواوو خوندي ساتلي او تل لپاره يې حقايق په اصلي شكل كي روښانه كړي او په باطل يې دبطلان كرښه را كښلي ده چي البته دنوموړي جريدي دچلونكو له تاريخي كردار څخه هم سترګي نشو پټولاي.

دشريعت اوونيزې په داسي شرائطو كي خپله اسلامي مبارزه پيل كړي چي له بده بخته زموږ ټولي جهادي جريدي دخپل اصلي مسير څخه منحرفه شوي داسلام او دمسلمانانو دخدمت په ځاي په شخصي تنظيمي او نژادي ګټو را ګرځول شوي او دصحافت په مخ يې تور داغ كيښودلي ؤ خو دشريعت اوه نيزي له ابتدا څخه تر نه پوري دهر ډول تنظيمي نژادي او تبعيضي توپيرونو پرته يې حقايق خپل اصلي شكل كي هيـواد والو ته رسـولي او دوانو شرائطو سره يې بلد كړي دي. همدا لا مل ددي باعث ګرځيـدلي تر خو هيـواد وال بېواځي دشريعت په لوستلو بسنه وكړي.

حقيقت دادي چي دشريعت اوه نيزي ټولو خپرونو ډېر په زړه پوري مطالب در لودلي دي خو دمحترم مولوي عبدالحكيم مجاهد ده‌ملګرو ملتو مؤسسي ته يوه تنقيدي كتنه» او دمحـترم محي الدين هاشمي «افغانستان كي ددين زده كړو مركزونو ته يوه كتنه» او داسلامي عقيدي تر عنوانو لاندي مطالب ډېر په زړه پوري وو پداسي حالي كي دشريعت اوه نيزي ټولو چلونكو ته ددويم نشراتي كال پيل دزړه له تله نيكمرغه غواړم لاس په دعا يم چه متعال خداي دي ښكلي شريعت په ټول هيواد كي حاكم كړي آمين.

محمد سرور خان «صديق مل»

دكابل ټايمز ورځپاڼي رئيس

شريعت در آسمان مطبوعات

كشور اسلامي وباستاني، افغانستان عزيز مهد فرهنگ وفرهنگيان نامور ومردان دانشور بوده كه در طول اعصار وادوار قبلي هزاران دانشمند نامي وصدها عالم روحاني را در اغوش پر خروش خويش پرانيده وبجامعه اسلامي بشري تقديم داشته است كه صفحه خجسته تاريخ باناههاي مبارك ايشان درخشان مي باشد. بلي!

يك سال قبل از امروز بود كه افغانستان عزيز يك قدم فراتر در صحنه وساحه فرهنگ گذاشت كه آن عبارت از نهاد وبنياد جريده وزين شريعت در عالم مطبوعات ميباشد اين جريده خجسته كه بيانگر عقايد اسلامي وآرمانهاي مقدس طلباي ديني وتحفه والا وگرانبهاي از دانشمندان مسلمان وروشنفكر ميهن براي تشنگان علم ومعرفت، فرهنگ وادب ميباشد در سال ۱۳۷٤ ماه قوس به اثر توجه خاص سر آن تحريك اسلامي طالبان كرام وسعي وكوشش فراوان دانشوران مسلمان افغانستان به شكل هفته وار مانند ستاره درخشان در آسمان مطبوعات كشور پا به عرصه وجود نهاد ودرخشيد.

وتا امروز به همت ولاي كاركنان اين ارگان بدون كدام سكتگي وخلا توانست به نشرات سرگرم خويش ادامه بدهد. كه يقيناً داراي مطالب ومحتويات عالي ومضامين دلچسپ جالب وخواندني علمي، سياسي، ادبي وتاريخي بوده ودر راه تنوير اذهان وافكار عامه داراي مقام وجايگاه بس مهمي واز اهميتي خاص برخوردار ميباشد.

ما كه امروز در آستان تجليل دوهمين سالگره نها دوبنياد اين نامه خجسته قرار داريم از خدا وند (ج) براي كاركنان اين جريده مزين اجر عظيم وتوفيق مزيد را در راه خدمت بيشتر علمي وفرهنگي بجامعه اسلامي وبشري ويژه كشور جنگزده وغبار لوده افغان متمني ايم وموفقيت وپيروزي تانرا در امور دنيوي وآخروي خواهانم. (ومن الله التوفيق)

خادم أحمد «حقيقي»

رئيس روزنامه (أنيس)

هفته نامه «شريعت» بمثابه مشعل تابناك فراره رهروان مدرسه اسلام

هفته نامه عاليقدر وپر محتوى (شريعت) در برهه سر نوشت ساز ومتلاطم تاريخ كشور ما، درست زماني كه تحريك طلبه كرام بخاطر بر چيدن فساد، ظلم چپاول وپاتك سالاري وساير سيئات قد علم كرده ووراء صعب العبور چيرگي خويش بر تيره گي ها را ميپيمود، در عرصه مطبوعات محيط هجرت (پشاور- پاكستان) درخشيدن گرفت شريعت ارگان - مركزي تحريك اسلامي طلبه كرام اگر از يك طرف با مطالب پر محتواي عالي علمي، ادبي، اجتماعي، فرهنگي، ديني وعقيدتي معلوماتي وخبري خويش براي هموطنان مسلمان ما خواندني ودر خور علاقه هست از جانب ديگر منحيث ارگان نشراتي تحريك اسلامي طلبه هاي عزيز [..]ار وسزا وار همه مرغوبيت، محبوبيت و[..]ت وعلاقه مندي هر چه تمامتري كه پ[..]سريه دست اول مستحق آن است بوده ا[..] وانشاء الله خواهد بود. همچنان [..]ت از لحاظ راست گوئي، واقعيت [..]ي وحق پوئي كه ملاك اهم يك نشريه [..]ياري مورد قبول به حساب ميايد از [..]ياز وبر تري خاصي بهر مند بوده است.

در اخير توفيق مزيد مسئولين صاحب [..] فاضل ودانشمند (شريعت) را در [..]نجام مكلفيت پس سنگين شان از بار گاه ايزد عليم وخبير (عز وجل) مستدعي آم. والسلام.

ملا ربيع الله فاروقي

رئيس معارف اسلامي راديو تلويزيون

دشريعت جريدي محترمو چلونكو ته!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته:

محترمو! دشريعت اوونيزه په داسي حال كي را منځ ته شوه چه دطالبانو اسلامي تحريك له پخوا كوم نشراتي ارګان نه درلود او دماتي خوړونكي دښمن نشراتي وسيلو په زيانه بي شرمي نشرات كول دا پداسي حال كي چه داسلامي تحريك دپيل لومړي شپي ورځي وي هغه هيواد وال چه داسلامي تحريك نيكي كارنامي يې له نژدي نه وي ليدلي او دا تحريك هم ورته نا بلده معلوميده په خاصه توګه مهاجرو هيوادوالوته خو بلكل يوه عجيبه معما ښكاريده له بلي خوا ددښمن تبليغاتي او نشراتي وسيلي هم دنوموړي تحريك په خلاف نشرات كول نو يواځي اخبار يا جريده همدا دشريعت اوونيزه وه چه دهمدي مقدس تحريك اهداف او حقايق يې دملت حضورته ورسول او په زياتو اقتصادي اوسياسي ستونځو سره ئي خپل نشرات پر مخ بوتلل بايد په لنډه توګه خپل نظر دهمدي په وړاندي داسي ولیكم چي دا اوونيزه تنها زما په نظر نه بلكه دهر چا په وړاندي زيانه دقدر وړ ده او چلونكو ته يې زيات احترام لري چي له خپله جيبه او كوره ئي ددي په چلولو كي مصرف كړي او د تير كال مضامين ئي زما دومره خوښ دي چي ديو مكتب په توګه ما خپله ورنه ډېر څه زده كړي او فعلاً هم دګرديز دشريعت غږ راديو ورڅخه استفاده كوي خداي (ج) دي وكړي چي راتلونكي كي هم دتير كال په شان دلچسپ مضامين نشر ته وسپاري په زيات قدر او احترام.

دشريعت اوونيزې هيشني لوستونكي، أمير محمد أحمدي.

دپكتيا ولايت داطلاعاتو او كلتور رئيس.

«شريعت اوونيزه» دحق او باطل په مبارزه كې

هغه وخت چي دګران هيواد افغانستان په ګوټ ګوټ كي دظلم او فساد لړۍ خوري وي او زموږ كړيدلي مسلمان ملت دسرګ او ژوند په پوله سلګي وهلي او دنجات لاره يې لټوله دملت هر مظلوم ولي يا عزته وګړي سترګي په لاره ؤ چي له كومي خوا به دمظلومانو اواز واوريدل شي دګونهو او يتيمانو آهوته به «دازادي» او خپلواكي دلاري شهيدانو أرواوي خوشاله كړي او دوطن دنجات لاره به بالاخره پيدا شي، په همدي دنا اميدي څخه ډكه فضاكي دامـيـد لمر ځرك دتاريخي افغانستان دمخلصو بچو (طالبانو) له خوا ځيره ووهله او دحق او باطل تر منځ يې كرښه راښكله.

هو ! له نن ځخه څه دپاڅه دوه كاله وړاندي دطالبانو نجات بښونكي اسلامي تحريك را منځ ته شو، افغانانو دځراغ رڼا وځارله اوبي لګنده يې ددي رڼا په لور حركت پيل كړ له يوي خوا رڼا زياتيدله او له بلي خوا دغه نجات بښونكي تحريك په يوه محل كي تم نه شو دخداي جل جلاله په نصرت او دهيواد والو په ملاتړ په بري پسي بري ددوي په برخه شو، الهي نصرت له يوي خوا او دخلكو ملاتړ له (٤ مخ)

د دریم مخ پاتي برخه

بلي خوا اوږه په اوږه دنجات له کاروان سره ملګري شو او دهیواد دوړیدو په حال کي کښتي دساحل په لور ګړندي شوه. دهمدي وسعت په لړکي دطالبانو داسلامي تحریك نمایندګي دپېښور په ښار کي دمیشتو افغاناتو په منځ کي جوړه شوه، موږ هم دغه درك پیدا کړ او له دوي سره مو تماس ونیوه البته دغه تماس ځانګړي نه ؤ، تورو ډېرو مهاجروافغانانو هم په دي اړه فکر کړي ؤ او همکاریوته چمتو شول دطالبانو اسلامي تحریك رهبري دخپلو رغنده اسلامي فعالیتونو په څنګ کي لازمه وګڼله چه خپل فرهنګي فعالیت هم منظم کړي هغه و چي څه دباسه یو کال وړاندي دجناب عالیقدر امیر المؤمنین دخاص هدایت له مخي د۱۳۷۵ هـ ش کال لیندي په ۲۸ مه نیټه داسلامي تحریك نشراتي ارګان دشریعت اوونیزي په فعالیت پیل وکړ دهمدي یو کلن قلمي جهاد په دوران کي دمحترم حاجي صاحب احمد جان، مولوي صاحب عبدالحکیم مجاهد، مولوي صاحب رحیم الله (زرمتي)، محترم عبدالرحمن أحمد (هوتکي)او محترم ملا اسدالله حنیفي، هلي ځلي زما له نظره نه هیریدونکي دي. په لومړي سرکي اخبار دتحریر دهیئت تر نظر لاندي او بیا وروسته حاجي احمد جان داخبار مسؤل مدیر شو. دا تبصره دیو ناظر همکار په حیث ما ځکه ولیکله چي تر یو حده داخبار دکارکوونکو حق ادا شي. داخبار دنشر وروسته دقلمي جهاد دسنګر مبارزو افغانانو په لیکنو صرفه ونه کړه او هرچا دخپل قلمي توان په اندازه دتوم له ذکر پرته او په نامه اخبار ته مضامین ولیکل او دغه جهادي سنګر بي له لا پیاوړي کړ.

دشریعت اوونیزي دیو کلنو نشراتو څخه یو ټکی ډېر روڼ جوتیږي او هغه دا چي سړي په جرئت سره ویلاي شي چي دنورو ځینو نشراتو ارګانونو په خلاف چي دخپل تنظیم او یا رهبر لپاره او یا هم دخپلو ګټو په خاطر چي له وسي یي وشي هر راز ناروا او نا جایزه لیکني کوي او حتی په دي اړه ددرواغو په ویلو هم حیله نه کوي، ولي هغه څه چي دشریعت اوونیزي په خپل یو کلن خپره ونیز جریان کي وکړل هغه دا وچي دمطبوعاتو په کورني کي یي درښتیا ویلو یو معیار رامنځ ته کړ زه په ډاګه سره ویلاي شم چي هیڅوك به دا ثابته نکړي چي دشریعت اوونیزي درواغ لیکلي دي. لکه څنګه چي دطالبانو اسلامي تحریك په رېښتنولي شهرت لري دشریعت اوونیزي همدا لاره غوره کړه.

له نیك مرغه دګران هیواد مرکز دکابل تاریخي ښار او دهیواد اکثره سیمي اوس دطالبانو داسلامي تحریك تر کنټرول لاندي دي او خلك په دي ډاډه دي چي ددوي سر او مال په امن کي دي او هم دغه تحریك په پوره ډاډ دهیواد له مرکز کابل څخه نوري سیمي اداره کوي. دهمدي ډاډ دلا پیاوړتیا لپاره دطالبانو اسلامي تحریك دا وټیله چي دشریعت اوونیزه له پېښور څخه کابل یعني خپل کور ته لاړه شي، زه ددي اقدام تود هر کلي کوم او هیله لرم چي ټول مهاجر افغانان به خپل هیواد ته ستانه شي او هلته به داسلام دمقدس دین تر لوا لاندي خپل ژوند تیروي.

محمد صدیق «پتمن»

دشریعت داوونیزي دویم نشراتي کال

په خپلو کارونو ، اجراتو او کړو وړوکي بي خلله، بي نقصانه او بي نیازه بوازي او بوازي لوي او مهربان خداي (ج) دي، بنده دخداي (ج) په مرستي بر سیره دبندګانو مرستي او همکاري ته هم اړه لري، دنړي پر مخ به داسي څوك نه وي چي دخپلو ورځنیو چارو په اجرا او سرته رسولو کي په یوه بڼه نه یوه بڼه دنورو همکاري ته ضرورت ونه لري او تولنیز ژوند هم دیو او بل په همکاري پر مخ حي، دبریالیتوب پړاوونه وهي او دنړي پر مخ دژوند کولو تعادل او توازن ساتي.

لکه څرنګه چي ورته اشاره وشوه دغه شان موږ هم انسانان یو، دخپلو ورځنیو چارو په اجراکي دنورو همکاوي، مشورو او وړاندیزونو ته اړیو ، چي دهمدغه شان رغنده او سالمو مشورو او وړاندیزونو په رڼا کي به پخپل مخکي په پرتو مشکلاتو او خنډونو بري تر لاسه کړو او دخپلو رنځیدلو، ځوریدلو او کړیدلو هیوادوالو دخدمت مصدر به ګرځو، خو شرط دادي چي زموږ دټولو په زړونو او نیتونو کي اخلاص، صداقت او صفایي موجوده وي.

موږ پوره یو کال دمخه په همدي شپو ورځو کي دخداي (ج) درضا او دخداي (ج) دبندګانو دخدمت په غرض دنورو ګټهورو پروګرامونو تر څنګ دشریعت داوونیزي په خپراوي هم لاس پوري کړ موږ کوښښ وکړ چي په تیر کال کي دشریعت داوونیزي په پاڼو کي داسي مطالب خپاره کړو چي له یوي خوا زموږ دمسلمانو هیوادوالو تر منځ هغه په لوي لاس ایجاد کړاي شوي فاصلي له منځه یو سي چي دځینو کورنیو او بهرنیو حواکونو او عمالو په واسطه را منځ ته شوي وي او له بلي خوا دخپلو مشبتو او جوړوونکو نظر یو په وړاندي کولو سره ځیني هغه ذهنونه روښانه کړو چي دطالبانو داسلامي تحریك درغنده هلو ځلو په اړه مغشوش او په تیاره کي پراته دي، موږ په تیر یوکال کي دشریعت په اوونیزه کي دخپلو هیوادوالو ډېر داسي رغنده پیشنهادونه او وړاندیزونه خپاره کړل چي زموږ ورځني ژوند ورسره مستقیم اړیکي درلودلې.

کیداي شي زموږ په لیکنو ار طباعتي کارونو کي نیمګړتیاوي موجودي وي، خو موږ په پوره ډاډ سره دا ویلای شو چي دخپلو نیمګړتیاو په لیري کولو کي مو دخپلو درنو لوستونکو پیشنهادونه او وړاندیزونه له پامه نه دي غورځولي او کوښښ مو کړي دي ددرنو لوستونکو غوښتني، ذوق او سلیقه په نظر کي وساتو ځکه خو ، نو زموږ خپروني دهیوادوالو قاطع اکثریت له خوا دتائید او مننت ور وي او په همدغه ډاډ مو خپل بهیر روان وساته.

دادي نن موږ پخپل دویم نشراتي کال پیل کوو، تیر نشراتي کال مو له هیواد څخه بهر پیل کړي او له هیواد څخه بهر مو خپروني درلودي داځکه چي په هیواد کي دننه دځینو عواملو له امله ددي امکانات نه وو موجود چي دشریعت اوئیزه په هیواد کي دننه چاپ کړو خو دا دي دلوي خداي (ج) په مرسته او دخپلو مسلمانو هیوادوالو په همکاري مور په دي بریالي شو چي لکه دنورو پروګرامونو په شان دشریعت اوونیزه هم په هیواد کي دننه چاپ او دخپلو هیوادوالو خدمت ته یي وړاندي کړو، هیله لرو دخپل عالي هدف دتر لاسه کولو په لارکي داسلام دمقدس دین له غوښتنو او دوخت داړتیاوو سره سم خپل روان کړي بهیر روان وساتلای شو، موږ به هغه وخت ډېر خوشبخت یو چي زموږ لیکني او زموږ ارزوګاني ددرنو لوستونکو لپاره په زړه پوري وي او دهغوي مشبتي غوښتني مو په پام کي نیولي وي.

موږ په دي پوهیږو چي داذهانو دروښانه کولو او په سمه لار دبهیر دروانولو لپاره مثبت تبلیغات او مثبتي خپروني ځانګړي رول لري او په ټولنه هغه وخت دخوشبختي او نیکمرغي ټاپي ته رسیدلاي شي چي دهغي ټولني لیکوالان او دقلم خاوندان دعیني او ذهني شرائطو په رڼا کي هغه څه ټولني ته وړاندي کړي چي دنیمګړتیاو په له منځه وړلو کي ورسره مرسته وکړي ځکه خو نو یوځل بیا دګران هیواد له درنو لیکوالو، شاعرانو او دقلم له خاوندانو څخه زموږ هیله داده چي دپخوا په شان خپلي ارزښتناکي لیکني، شعرونه او پیشنهادونه دشریعت له اوونیزي څخه ونه سپموي او په دي توګه خپلو هیوادوالو ته دخدمت مصدر وګرزي.

